**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآلونو څانگه**

**شماره متحدالمآل: ۳۴** **تاریخ: ۱/شعبان المعظم/۱۴۴۵ هـق | مصادف: ۲۳/دلو/۱۴۰۲ هـ ل**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه محکمو او ابتدائیه محکمو د ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته!**

**و بعد:** د ځینو محکمو استهداآت رارسېدلي او په هغو کې یادونه شوې ده چې: زیات شمېر خلک د اسلامي امارت محکمو ته مراجعه کوي چې په همدې دلیل دوسیې ډېرې شوې دي او په موضوعاتو کې ځنډ د خلکو د نارضایتۍ او ناهیلۍ سبب شوی دی. د همدې ستونزې له لاملونو څخه یو یې هم د قضایي او اداري چارو نه چټکتیا او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۴/۳/۲۴ هـ ق نېټې (۲۷) گڼه متحدالمآل ته نه پاملرنه ده چې د یاد متحدالمآل متن داسې دی: (د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه محکمو او ابتدائیه محکمو د ریاستونو او د سترې محکمې د نورو ریاستونو منسوبین، په ځانگړې توگه قضائي غړي یې، مکلف دي چې د خپل مسئولیت په نژدې سیمه کې د کور چارې تنظیم کړي چې په دې ترتیب سره به د خلکو د قضیو په حل او فصل کې له ځنډ څخه مخه ونیول شي..)، بله دا چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۵/۴/۲۴ هـ ق نېټې (۱۸) گڼه متحدالمآل کې ورکړې رخصتیو له اړتیا پرته اخیستل له حده زیات شوي چې د محکمو کاري چارې یې له ځنډ سره مخامخ کړې دي.

یاده موضوع د سترې محکمې عالي شورا مجلس ته چې په ۲۷/رجب المرجب/۱۴۴۵ هـ ق مصادف ۱۹/دلو/۱۴۰۲ هـ ش نېټه دایر شوی و، وړاندې شوه. عالي شورا د (۲۸) گڼه تصویب د درېیمې پرېکړې په ترڅ کې په دې هکله هدایت وفرمایه چې پښتو متن یې دا دی:

((د رخصتۍ ترتیب دې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۵/۴/۲۴ هـ ق نېټې د (۱۸) گڼه متحدالمآل له مخې پلی کړل شي او د یاد متحدالمآل په پای کې ورکړی هدایت چې د یادښت په بڼه د ۱۴۴۴/۳/۲۴ هـ ق نېټې د (۲۷) گڼه متحدالمآل د تطبیق په هکله صادر شوی دی، باید په بشپړه توگه په پام کې ونیول شي.

البته کله چې د محکمو منسوبینو ته رخصتي ورکول کېږي او د هغوی رخصتي له درې ورځو څخه زیاته وي، له درې ورځو رخصتۍ پرته د پاتې ورځو معاش دې له دوی څخه په اصولي طریقې سره وگرځول شي.))

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورى د محترم مقام پورتنی لیکلی هدایت د دې متحدالمآل په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو او نورو اړونده ریاستونو ته واستول شوه تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.